کله چې سجده کوې نو لاسونه دې کېږده او څنګلې دې پورته کړه

له البراء رضي الله عنه نه روایت دی وایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: "کله چې سجده کوې نو لاسونه دې کېږده او څنګلې دې پورته کړه".

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه په سجده کې د لاسونو حالت تشریح کړی دی، چې دواړه ورغوي (لاسونه) به پر ځمکه کېږدې پداسې حال کې چې د لاسونو ګوتې یې ټولې سره یو ځای وي او قبلې لور ته وي، او دواړه څنګلې به له ځمکې پورته کوي چې ورسره ونه لږېږي او له څنګونو به جلا وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10927